شریعت
SHARIAT WEEKLY
اوونيزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
ځلورم کال دیارلسمه ګڼه پرله پسې (۲۰۲) شنبه د۱٤۱۹هق کال د شوال المکرم (۲۰) د۱۳۷۷هـ ش کال د سلواغې دمیاشتې(۱۷) د۱۹۹۹میلادي کال دفبرورۍ (٦)

د ملګرو ملتونو هیئت او د فرانسې ګرځنده شارژدافیر د بهرنیو چارو وزارت له معین سره وکتل

د بهرنیو چارو وزارت معین محترم مولوي عبدالرحمن «زاهد» د پنجشنبې په ورځ د خپل کار په دفتر کې له ښاغلي مایکل اې چې سره چې د ملګرو ملتو د یوه څلور کسیز هیأت په مشرۍ کابل ته راغلي دي وکتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : ددغه کتنې په ترځ کې لومړي ښاغلي هال مایکل اې چې د خپلو خبرو په ترځ کې د افغانستان د اسلامي امارت د میلمه پالنې له امله قدر داني وکړه . وروسته د بهرنیو چارو وزارت محترم معین د افغانستان له خلکو سره د ملګرو ملتو د سازمان د همېشنیو همکاریو له امله مننه څرګنده کړه او ویې ویل : د افغانستان د اسلامي امارت په سلو کې په پنځه نوي قلمرو کې سوله او امنیت تامین دي چې نړیوالي او غیر حکومتي موسسې کولی شي د افغانستان د اسلامي امارت په تر لاس لاندې سیمو کې کار او فعالیت وکړي .

د افغانستان اسلامي امارت په پر له پسې توګه هلې ځلې کړې دي چې د نړیوالو موسسو دکار کوونکو د سر او مال ساتنه په خپله غاړه واخلي چې هغوی وکړای شي له هر ډول ٤ مخ

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) ډیر نژدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد .

محترم الحاج ملا محمد عباس آخند سرپرست وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان در جمع کثيري از خبرنګاران داخلي و خارجي :

در کنفرانس بين المللي مبارزه با حوادث و آفات طبيعي که در شهر کوبي جاپان انعقاد يافته بود فيصله بعمل آمد تا

يك مرکز مجهز امداد با مصدومين حادثات و آفات طبيعي در کابل تأسيس ګردد

عنقريب يك هيئت وزارت خارجه جاپان وارد کابل خواهد شد

حکومت جاپان در تعميل پروګرام صحت عامه در پانزده ولايت درجه سوم افغانستان همکاري لازم خواهد نمود

روز پنجشنبه مؤرخ ۱۸ شوال المکرم مطابق ٤ فبروري ۱۹۹۹ يك کنفرانس مطبوعاتي با اشتراك جمع کثيري از خبرنګاران داخلي و خارجي در مقر وزارت صحت عامه تدوير يافته بود در اين کنفرانس که با تلاوت آياتچند از کلام الله مجيد افتتاح ګرديد محترم الحاج ملا محمد عباس آخند سرپرست وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان در رابطه به چګونګي و نتايج سفر اخير شان به کشور دوست جاپان به حاضرين معلومات لازم ارائه نموده ګفتند : غرض اشتراك در کنفرانس بين المللي مبارزه با حوادث و آفات طبيعي که به تاريخ ۲۰ جنوري به اشتراك نماينده ګان کشور هاي ګرد و نواح بحر آرام در شهر کوبي جاپان داير ګرديده بود همراه با هيئت معيتي خويش عازم کشور دوست جاپان ګرديده بودم در اين کنفرانس روي مسئله خطرات حوادث و آفات طبيعي و طرق محافظه و مقابله با اين حوادث تبادل نظر همه جانبه صورت ګرفته که در اين ضمن روي آفات ناشي از زلزله، سيلاب برفکوچ و امراض Epidemic در افغانستان نيز صحبت مفصل انجام ص ٤

د عشر او زکات اوه سوه مليونه افغاني د غزني ولايت په مستحقو کورنيو ووېشل شوې

د عشر او زکات اوه سوه مليونه افغاني په دې وروستيو وختو کې د غزني ولايت د شهيدانو او مهاجرينو د رياست له خوا په دغه ولايت کې په مستحقو کورنيو وېشل شويدي.

د غزني له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبريال خبر راکړ دغه پيسې په دغه ولايت کې د شهيدانو معلولينو معيوبينو او بې وزلو کورنيو باندې ووېشل شوې او دغه لړۍ دوام لري.

د استخباراتو لوی رئيس د کنړ ولايت د خلکو په غونډه کې :

د ازموږ دنده ده چې د شهيدانو د سپېڅلو ارمانونو ساتنه وکړو

د اسلامي امارت ټينګښت په هېواد کې د زرګونو تنو بې ګناه او معصومو ځوانانو د وينې توييدو بيه ده او زموږ دنده ده چې له دغو سترو او سپېڅلو برياوو څخه ساتنه وکړو .

دغه مطالب د استخباراتو عمومي رئيس محترم قاري احمد الله د کونړ ولايت د خلکو او مسؤولينو په يوه ټولنه کې د خبرو په ترځ کې څرګند کړل او وې ويل : په هېواد کې د اسلامي نظام ټينګښت د افغانستان د خلکو روا غوښتنه ده چې ددغه مقدس هدف لپاره په زرګونو تنو پاکو او معصومو ځوانانو قرباني ورکړې ده او زموږ دنده ده چې د هغو له دغه سپېڅلي ارمان څخه ساتنه او دفاع وکړو . ٤ مخ

د بغلان ولايت د سل بستريزه روغتون د بيا ودانولو کار پيل شو

په هېواد کې د عام المنفعه تاسيساتو د بيا رغاونې په لړ کې د بغلان د ښار سل بستريزه روغتون بيرته احيا او ترميميږي.

د بغلان له ښار څخه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د بغلان د ښار د روغتون د بيا آبادولو کار چې د جګړو له امله يو څه ويجاړ او غير فعال شوي و د چارواکو د پاملرنې او ددغه ولايت د ديندارو خلکو په همکارۍ په دې وروستيو وختو کې پيل شو او هغوی تياري وښود چې ددغه روغتون د بيا ابادولو په خاطر چې ددغه ښار د اوو کسانو د ستونزو د لرې کولو لپاره يو اغيزمن او نيك اقدام دی هر ډول مالي مرستې ته تيار دي.

په بلخ کې د روغتيايي خدمتونو د پلان جوړولو سيمنار پای ته ورسيد

د مزار شريف له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : ددغه سيمنار د کار په پای کې چې څه موده مخکې د بلخ ولايت د عامې روغتيا د رياست د کنفرانسونو په تالار کې جوړ شوي و له هغه وروسته چې د کلام هغه سيمنار چې د ۱٤۲۰ هجري قمري کال د روغتيايي خدمتونو د پلان د طرح کولو او برابرولو په مقصد د بلخ ولايت د عامې روغتيا د رياست له خوا په دې وروستيو وختو کې جوړ شوی و پای ته ورسيد. ٤ مخ

د فارياب ولايت د شيرين تګاب او قرمقل ولسوالۍ خلکو ژمنه وکړه چې :

دالهي حکمونو د پلي کولو، د سولې او امنيت د تامينولو او د دښمنانو د دسيسو د شنډولو په لار کې به خپلې هلې ځلې جاري وساتي

د هغې ستري غونډې په ترځ کې چې د فارياب ولايت د شيرين تګاب په ولسوالۍ کې وشوه د اسلامي امارت هدفونه او سوله ايز پروګرامونه حاضرينو ته څرګند او وړاندې شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په دغې غونډه کې ددغې ولسوالۍ له زيات شمېر پښتنو خلکو نه پرسېره د هرات ولايت والي محترم ملا برادر اخند او د چارو يو شمېر نورو چارواکو ګډون کړي و .

ددغې غونډې په بهير کې محترم مولوي مفتي ٤ مخ

ازسوي محکمه عالي ايران :

مجله آدينه در تهران مصادره شد

تهران : محکمه عالي ايران مجله «آدينه» در تهران را مصادره کرده و علت آن را نشر مضامين کذب و دور از واقعيت توصيف کرد.

غلام حسين ذاکري مسؤول مجله مورد توبيخ قرار ګرفته به پرداخت بيش از نه هزار دالر جريمه نقدي مکلف شده است .

ص ٤

امريکا و اتحاديه اروپا :

براي کوسووا خود مختاري کافي داده مي شود

پرشتينا : امريکا و اتحاديه اروپا که طرح جديد صلح در کوسووا را پيشنهاد کرده اعلان داشتند که براي کوسووا خود مختاري کافي داده خواهد شد.

در حاليکه قرار است هفته آينده مذاکرات جدي بين جبهه آزاديخواه کوسووا و صرب ها در پاريس پايتخت فرانسه آغاز ګردد هيأت اين جبهه با ابراز آماده ګي در حال حرکت به ص٤

د افغاني سرې مياشتې رئيس او سکرتر جنرال محترم الحاج حافظ سيد عصمت الله «عاصم» له شريعت اوونيزې سره په مرکه کې :

د افغاني سرې مياشتې ټولنې زموږ له بې وزلو هېوادوالو سره د خوراکي موادو په مرستې برسېره پنځه مرستونونه ، يو مجهز روغتون او شپږ ځلوېښت کلينيکونه فعال کړيدي

قدرمنو لوستونکو! د سرې مياشتې د هڅو په هکله زموږ خبريال د هغې ټولنې له محترم رئيس سره يوه مرکه کړې چې دا دې ستاسې درانه حضور ته يې وړاندې کوو :

په سر کې د افغاني سرې مياشتې محترم رئيس ځان داسې معرفي کړ :

زما نوم ملا عصمت الله «عاصم» او فعلاً د اسلامي امارت لخوا د افغاني سرې مياشتې د عمومي رئيس او سکرتر جنرال په صفت موظف شوی یم.

بيا مو له هغه څخه د کابل او د هېواد په نورو برخو کې د سرې مياشتې د مرستندويه پروګرامونو په هکله معلومات وغوښتل، هغه وويل : د کابل په شمول په هر ولايت ٤ مخ

امريکا در کسب حمايت کشور هاي خليج ناکام ماند

دوبي : اخيراً هيأت بلند رتبه امريکايي برياست (مارکيت اند يك) به کشور هاي خليج سفر کرده بود تا اين کشور ها را در مقابل حکومت عراق تحريك و حمايت آنها را جلب نمايد اما اين ماموريت به ناکامي مطلق مواجه ګرديد.

طبق ګزارش رسانه هاي خبري جهان، کشور هاي خليج طرح امريکا در بر اندازي صدام حسين را رد کرده و آن را مداخله آشکارا در امور داخلي اين کشور توصيف نمودند.

روزنامه الخليج در اين رابطه نوشت که هرګونه فشار از خارج بر عراق مداخله و باعث جنګ هاي داخلي و تجزيه عراق خواهد شد.

روزنامه افزود که مشي و پاليسي ص ٤

د بادغيس په ولايت کې درې کلينيکونه پرانستل شول

د بادغيس ولايت په مربوطاتو کې په دې وروستيو وختو کې درې کلينيکونه پرانستل او د خلکو د استفادې ور وګرځېدل.

د بادغيس له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د دغو کلينيکونو د پرانستلو په مراسمو کې د بادغيس والي محترم الحاج مولوي عبدالمنان ددغه ښار عام المنفعه مرکزونو د جوړولو په باره کې خبرې وکړې او په دغه ولايت کې روغتيايي کلينيکونو جوړول يې د خلکو روغتيايي اړتيا وګڼه له منځه وړلو په لاره کې يې ګټور ګام وباله.

ددغه ولايت د عامې روغتيا رياست يو خبر ځای د باختر اطلاعاتي آژانس ته ٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

اوس به خپل تور مخ څرنګه سپين کړي ؟

تا مسعود احمد شاه ، شرعي او ملي مجرم چې د مجاهدو او مسلمانو افغانانو د سر، مال او پت بېرغې د ښمن دې له بي بي سي سره يې په مرکه کې ځان بېخي سپين چرګ او د هر څه حقداروګاڼه خو پره يې په پاکستان واچوله چې دده په ضد يې يو ځل د حکمتيار او بيا د طالبانو د اسلامي تحريك (اسلامي امارت) ملاتړ وکړ ...! يعني که چيري - دده په ګومان- پاکستان دغه بې انصافه چلند نه وای ورسره کړی نو دی به د افغانستان بلامنازع مشر ، تل پاتې قهرمان ناپليون او نامتو جمهور رئيس ؤ !!!

خو د هيواد مسلمانان او نړۍ يې لومړي د پخواني ٢ مخ

حکومت امريکا :

حمايت ما از اسرائيل ادامه خواهد يافت

مشهد : حکومت امريکا ګفته است که حمايت خود از اسرائيل را ادامه خواهد داد .

يك مقام امريکا بي علت اين پاليسي را عکس العمل ايران در برابر طرح ص ٤

شمالي کوريا په داسې توغندي کارکوي چې امريکا ويشتلای شي

د CIA رئيس

واشنګټن : د شمالي کوريا توغندوي پروګرام په امريکا د ويرې سره لرې راستې ده د سي آی ای رئيس د امريکا کانګرس په دې خبر کړي دي چې شمالي کوريا اوس په داسې يوه توغندي کار کوي چې الاسکا او د امريکا ځينې نورې برخې ويشتلای ٤ مخ

د کرکټ د لوبې تر ټولو وروسته :

پاکستان له هند نه دهاکې مسابقه هم وګټله

نوې ډيلي : وروسته تر هغې چې پاکستان د کرکټ لوبه له هند نه وګټله دا دې د هاکي لوبه يې هم وګټله. ربوټ وايي چې دواړه د لوبې د پای ته رسيدو ٤ مخ

کنفرانس اسلامي خواستار تغيير پاليسي سازمان ملل در قبال عراق شد

جده : کنفرانس کشور هاي اسلامي از شيوه بررسي اسلحه کيمياوي عراق بوسيله سازمان ملل متحد انتقاد کرده و آن را نادرست خواند.

عزالدين لاراکي منشي عمومي کنفرانس کشور هاي اسلامي از نحوه ماموريت تفتيش اسلحه کيمياوي موسوم به انسکام ابراز نګراني کرده اعلان داشت که ريچرد بتلر رئيس انسکام شخص مورد متنازعه بوده و لازم است که ص ٤

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني پهپاکستانکي(۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) کابل-افغانستانتیلفون: ۲۰۰۷۵
په پیښور کي :دطالبانونمایندګیتیلفون: ۸٤٤٣٣۱-۸۱۸۱٥٧-۸۱٥٦٢٧
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

شوروي او بیا د اوسني روسیي لپاره ځنځیر پغاړه غلام او مختوري پروتوکولي نوکر ګڼي، ددي خبري ثابت شواهد هغه انکار نه منونکي رسمي اسناد دي چي د شوروي هغو پوځي جنرالانو او معتبرو سرمشرانو لیکلي او خپاره کړي دي چي دي یي دغي شرمیدلي دندي او غلامي ته هڅولي دي، لاس لیکونه یي ورسره کړي ، بیایي په عمل کي پیاده کړي اود غلامي حق الرقبه یي د اوبلونو، خوراکي او لوژستیکي موادو په شکل کي پخپل لاس ورته تسلیم کړي دي، دغه ثابت او انکار نه منونکي رسمي اسناد په ډیرو ژبو چاپ او خپاره شوي او په افغانانو بر سیره نړیوالو په وار ، وار اوریدلي او لوستلي دي،

په دغو وختونو کي امریکا یي د لا لانو د امریکي د غلامي زمینه هم ورته برابره او د امریکي د غلامي کړي یي د دالرو په بیه په دابل غوږ کي ورځوړنده کړه په دي هم ټوله نړي خبره شوه،د روس د غلامي لپاره یي د اسلامي جهاد په وخت کي د روسي کتارونو لیکه له ختجانو بلکي له حیرتانو - تر کابله پوري ځار له او په سوونو نقلیه وسیلي به په افغان وژونکو او هیواد ویجاروونکو وسلو بار په ډاډه زړه تر کابله پوري ددغه قهرمان! ناپلیون د بریتونو تر سیوري لاندي په شپه او ورځ راچلیدلي، د مجاهدینو له بریدونو ځخه به یي دغه کتارونه ساتل او جګړه به یي ورسره کوله ، خو دغه بي غیرته چي ځان ته یي هم افغان او هم مجاهد وایه په دغه کرغیړن عمل ، شرعي او ملي جرم باندي هیڅ شرم او حیا نه پخوا کوله ، نه یي اوس کوي، او غواړي چي ځان د ولس له قهر نه بچ کړي بیایي د شوروي له ماتي وروسته د روسیانو په غلامي کي چي څومره افغانان شهیدان او کورونه یي وړاندي وتړلو په هغه عمل یي هم نه له الله تعالي ځخه او نه له مسلمانو هېوادوالو ځخه حیا وکړه او نه یي د هغوي په سر، مال او پت صرفه وکړه او لا لګیا دي چي څومره تباهي یي په وس کي وي هغه کوي، مګر بیا هم لګیا دي خپل تور مخ په داسي مرکو سپینوي !!!

د امریکا د غلامي لپاره یي یو خو د ټولو افغانانو د غوښتنو په خلاف د مجاهد اسامه بن لادن د ویستلو غږ وکړ او بل یي کلنتن ته‌ډاډ ورکړي دي چي تر څو د ډالرو بهیر را مات وي په افغانستان کي به سوله راتلل نه پریږدم!

دده او دده دډلي اخلاقي، شرعي، سیاسي او ملي جرمونه دومره ډیر دي چي کتابونه وړاندي لیکل شوي دي، مخ یي تور دي او د زوال وخت به یي رالنډ شي انشاء الله تعالي . مګر دي له دغو بي شمیره جرمونو او مختوریو نه د بي بي سي او نورو آژانسونو په مرکو د ځان د خلاصون او مخ سپینولو ناکامي هڅي کوي،

دغه کار یا هغه څوك کوي چي ډیر احمق وي او ټوله نړي ړنده او کڼه وګڼي، یایي هغه څوك کوي چي د مختوریو په تپه توره تیاره کي راګیروي ، لوري ور ځخه ورك وي او لکه سیلاب اخستي هر بوټي ته لاس اچوي!

افغانان دده او ورته مجرمینو په هکله نهایي پریکړي ته رسیدلي دي هغه دا ده چي نوره په ریښتیا توبه وکاږي ، حق ته غاړه کیږدي او خپل ولس ته ځان تسلیم کړي، که دا نه وي نو مسلمانان او باتور افغانان به یي ان شاء الله تعالي له شر نه ځان خلاصوي که په هره بیه ورته تمام شي!

هدا هم الله او اخذهم اخذ عزیز مقتدر

کانکور ځپلي

ښاغلي مجددي او ګیلاني صاحب د انهیوالي او د روحانیت ګډه سابقه لري، که څه هم د دوي په مزاج کي اوس د سیاست عنصر غالب دي ځکه خو د روحانیت پر ځاي سیاسي کرکټر د ځان له پاره غوره بولي، ښایي دوي هم د پاکستاني سیاستوالو د سیاسي جوړتوړونو ... کړه جوړ کړه» او ده اومنتر نبه پورځ کړي وي، له همدي ځایه دهٔ چي نن سبا یي د سیاست مارکیټ ته یوه نوي متاع وارده کړي او د یوه بل لیلام بولي یي لګولي ده .

په پاکستان کي چي څومره اتحادونه جوړیږي او ماتیږي دوي تري بي اغیزي نشي پاتي کیداي آخر دوي به ګني د هغوي د خولي، اوبه نه وي څښلي ! ضرور به یي کوم غوړپ له ستوني تیر شوي وي، د پخواني پاچا په وختونو کي به چي زده کوونکي له شپږم نه اووم او دغــــي له اتم نه نهم ټولګي ته بریالي شول، نو یوه بله ازموینه د کانکور په نوم تري اخیستل کیده که کوم زده کوونکي به په کانکور کي پاتي راغي هغه د زده کړي له دوام نه بي برخي ؤ معنا دا چي نور ددي وړ نه بلل کیده چي په زده کړه او لوست خواري وکړي،یا په بله وینا وخت ضایع کړي، ځکه خو به هغه ځانته د کار او کسب په لټه کي شو، یا به د مستري شاګرد شو یا د ترکان او نورو ... د محمد داؤد خان په جمهوریت کي د شپږم کانکور لغوه شو، پواځي له اتم نه نهم ټولګي ته د کانکور ځانګړي ازموینه اخیستل کیده .

دغــــو یي په اوومــــه چي کمونستانو کودتا وکړه نو د خپلو انقلابي کړنو او فرمانونو په لړ کي یي دغو کانکور ځپلیو ته هم اعلان وکړ، چي راشي او ترغوندي په نهم ټولګي کي شامل شي، دي ته یي د کانکور ځپلیو ټولګي وایه، بس کانکور ځپلي هم له هو را او سرو کمیسونو سره راغونډ شول، ځانګړي ټولګي یي جوړ او د مارشونو او میتنګونو میله پري توده شوه چي لاریون اومیتینګ به ؤ په کانکور ځپلیـــــو به ګرم ؤ، کنسرت او ډرامه ټول د کانکور ځپلیو په پڅه رسیدلي وه .

اوس چي ښاغلي مجددي او ګیلاني صاحب د سولي او ژغورني په نوم غږ پورته کړي او کومي شلیدلي کړي یي سره راغونډي کړي سړي ته هماغه د کانکور ځپلیو برخلیك ښکاره شي چي د خلقیانو پرچمیانو مارشونه او میتنګونه پري تاوده وو .

آخر سیاسته خو هسي خوشي خبره نه ده، د سیاست په کانکور کي ناکامي بیا ډیره خطرناکه ده د سیاست کانکور ځپلي بیا دا چانس هم نلري چي څوك تره کي او کارمل یي په ښه ورشي او په جلاټولګیو کي یي کینوي.

کانکور ښه ؤ ،کوم زدکوونکي به چي د لوست نه ؤ نو د سور پلار له چي یي نه ایستل هغوي کولاي شول چي د کسب او کار له لاري د ژوند په لار پل کیږدي، خو کمونستانو کانکور د پخوانیو حکومتونو د ظلم او استبداد بیلګه معرفي کړه چي ګني هغوي د ملت د بچیانو د زده کړي مخه نیوله ...

مجددي صاحب ځیني داسي نومونه هم پخپله مرکه کي واخیستل چي پل یي په ایرو کي هم نه ښکاري او څوڅو واره یي په سیاست کي د ناکامي ځــبیري پر مخ خوړلي تردي چي نور یي مخــــونه د کتلو هم نه دي.

سړي حیران شي چي دغه کړي او ځیري به مجددي صاحب ته په څه ښه ورشي، ده ته چي جنرال دوستم په دردونه خوړل چي ستر جنرال یي کړ تـــور به یي څه په دروخوري ! همدغــــي نبي عظیمي او آصف د لاور هم .

دده خو په هغه جمهوري ریاست او ارګ کي هم ایله دوي کـوټي په برخه رسیدلي وي، د سیاست عجیبه نشـه ده ، یو هم داسي نه دي چي پخپل ګریوان کي وګوري چي بس ده، دغه لوبه نور نتداره کوونکي نه لري.

ماموریتونه څه چي لوبغاړي هم د وخت په تیریدو تقاعد کیږي خو د سیاست په لوبه کي د تقاعد سند نه چلیږي، دا خو لا څه کوي دغه میراث مړي لوبه میراثي هم ده . مجددي صاحب ځان ولي په ښیرو ستومانه کوي، ملت نه دده د عا په کار ده، ګیلاني صاحب خو ښه ؤ د جهاد په پیل کي یي خپلو مریدانو ته د ټانکونو پر ضد شګي دمولي اوس هم ددغــي دعا ضرورت شته پخواني پاچا خو د مجددي او ګیلاني صاحبانو له لاسه غرق شو، هغه بیچاره پر دوي دومره حساب او باور کړي ؤ چي د هر څه له پاره یي کافي شافي بلل خو چي وخت به راغي بیا دواړو ته له محمد ظاهر شاه نه ځانونه غوره او وړښکاریدل.

پریږده چي د یوي بلي تجربي زیــــاتون هم وشي، زموږ ژوند هسي هـــم ټول په تجربو کي تیر شو ، د کـــانکور ځپلیو تجربه نور محمـــد تره کي او ډلي یي هم کـــړي وه ، ګــــوندي وي چي مجددي او ګـــیلاني تري څه کوچ راوباسي.

پټې پاڼې

شهرت ننګیال

استعمال لفظ قانون در تألیفات علماي کرام

عده یي در برابر لفظ قانون بسیار حساسیت از خود نشان مي دهند تا سرحدیکه استعمال آنرا معصیت و ګناه کبیره مي دانند و با استعمال کننده از در پرخاش پیش مي آیند و سخن به کشمکش مي انجامد که مایه، تأسف است من فکر میکنم این اشخاص معذور باشند زیرا سابقه، تاریخي آنرا مطالعه نکرده صرف شنیده اند که کلمه قانون ریشه اسلامي ندارد و در محیط اسلام بیگانه است ګرچه من به این عقیده ام که در اخلاق و عادات نباید از بیګانګان تقلید شود زیرا این تقلید به معناي از دست دادن فرهنګ ناب اسلامي است که جنایت پنداشته میشود اما در استعمال الفاظ و کلمات علوم و فنون و استناد به آن ها نباید طوري ضدیت نشان داد که دلالت به بیخردي انسان بکند و ګریبانها چاك شود و مضحکه براي مردم ګردند من به توفیق خداوند در باره استعمال لفظ قانون از طرف علما تحقیق مختصري انجام داده ام که حسب آتي پیشکش میګردد :

۱- علامه راغب اصفهاني که میګویند مذهب حنفي داشته در معجم مفردات الفاظ القرآن در ص ن تحقیق ندیم مر عشلي دارالکاتب العربي لفظ قانون را بکار برده است و راغب اصفهاني در سال ۵۰۳ هـ ق ۱۱۰۸ م از دنیا چشم پوشیده و آثار متعددي دارد و از علماء متقدم به حساب مي رود.

قانون السیاسة و دستور الریاسة از یك مؤلف ناشناس که بنام شاه شجاع مظفري در سال هاي ۷۵۹ الي ۷٦۳هـ صادر شده است .

۳- قانون التـــــأویل تألیف ابن عربي.

٤- القوانین المحکمة في الاصول ص ۳۸۸ دلالة الکتاب والسنة علي الأحکام تألیف شهید عبدالله عزام

۵-تفسیر عثماني دربن سوره ها از لفظ قانون نام برده است : سوره انعام، در سوره فاطر دو مرتبه لفظ قانون استعمال ګردیده است . سوره تحریم و سوره ملك .

استعمال لفظ قانون از طرف علماء معاصر : داکتر عبدالکریم زیدان،که یك شخصیت معروف علمي در جهان اسلام است و کتب متعددي را تألیف کرده است و از آن جمله کتاب اوست زیر عنوان نظام القضآء في الشریعة الاسلامیة، ناشر مؤسسه الرساله بیروت، وي در صفحه (۲۵۱، میګوید : آیا جواز دارد احکام فقه را به شکل مواد قانون در آورد : «تقنین أحکام فقهي» زمانیکه مقید ساختن قضا را بیك مذهب خاص از طرف متولیان امور مسلمین مجاز میدانیم و مصلحت و ضرورت را در نظر میګیریم آیا جائز است متولي امور مسلمین ، امیر مؤمنین و قائم مقام او ، احکام فقهي همان مذهب را که قاضي به پیروي از آن در حل

استاد عبدالواحد «نهضت فراهي»

دعاوي مکلف شده است، به شکل مواد قانوني در بیاوریم، پاسخ مثبت است و جواز دارد اما شرط آن است که نخبه، از دانشمندان علم فقه که علماي صالح و متمسك به احکام دین اند این وظیفه خطیر را بر عهده بګیرند و احکام فقهي را به شکل مواد در بیاورند و باید این علماً به تقنین اقوال یك مذهب اکتفا نه کرده مسایل ارجح را از مذاهب مختلف و معتبر اسلامي بیرون نویس کرده در سایه هاي قرآن و سنت رسول الله «ص» و فقاهت سلف صالح که در رأس شان صحابه کرام که پیشواي همه شان خلفاي راشدین اند به شکل مواد در بیاورند)ختم ګفتار عبدالکریم زیدان.

در ګذشته این روش نیز سابقه دارد چنانچه وقتي محمد علي پاشا در مصر در صدد بر آمد قانون مدني فرانسه را جایګزین شریعت اسلام در آن کشور بګرداند مرحوم محمد قدري با شا یك تن از علماءمصر کمر همت بست و کتابي در معاملات تألیف کرد و نام آنرا مرشد الحیران في معرفة احوال الانسان ګذاشت و احکام فقهي را به شکل مواد قانوني در آورد ګرچه قانون مدني فرانسه تحت تأثیر مستقیم مذهب مالکي«رح» رفته بود زیرا زمانیکه مسلمانان اندلس، هسپانیه امروز، را فتح کردند و تا شهر تیس در جنوب فرانسه پیش آمدند فرهنګ مترقي و پیشرفته داشتند که فرانسه آن روز از آن محروم بود بناً از مذهب مالکي در قانون مدني خود استفاده کردند و استفاده از فرهنګ دیګران نباید به معناي تقلید و یا تحت تأثیر رفتن تلقي شود زیرا هر دو با هم تفاوت دارند چنانچه ګفته اند : فرهنګ اصیل اسلامي، با فرهنګ هاي ملل مسلمان شده پیوسته در آمیخته است و نه تنها در آنها هضم نشده بلکه چون صافي نیرومندي عناصر مثبت و انساني آنها را ګرفته ورخود جذب کرده و بر سرزمین جدیدي فرمانروا ګردیده است . به همین علت است که استعمار اروپایي در قرون جدید چون پا بر سرزمین هاي اسلامي میګذارد برنامه مي ریزد تا فرهنګ منحط خود را حاکم و فرهنګ اسلامي را از محتوي تهي کند و از میدان بیرون بګرداند او تصور مي کند که فرهنګ اسلامي هم مانند هر فرهنګ بومي بي مایه دیګر است و اګر در کشور هاي اسلامي موفق مي شود تا روشنفکران وبه کم مایګان و از تعالیم قرآن دور افتادګان را جذب کند و به رنګ خود در آورده و از انان مبلغي بي جیره و مواجب بسازد، فریفته خود بګرداند و همیشه در آنجا بیارامد.

ادامه دارد

معرفي يكتن از نوجوانان ممتاز و كوشا

احسان الله هوشمند دانش آموز ممتاز مدرسه عالي اماني كه در جريان زنده گي تحصيلي اش به اخذ تحسين نامه هاي متعدد از جانب اداره مدرسه و مقام محترم وزارت معارف نايل آمده است . با وي گفت و شنودي انجام داده ايم كه اينك براي شما خواننده گان عزيز پيشكش مينمائيم .

محترم احسان الله هوشمند ميخواهم بپرسم كه راز موفقيت خويش را در عرصه آموزش در چه ميدانيد ؟

جواب : با سپاس بيكران از لطف تان خدمت تان عرض نمايم كه راز موفقيت من در عبادت، پابندي به پنج وقت نماز و عملي نمودن دساتير نجات بخش اسلام نهفته است مشوق اصلي من در كسب علم همواره مادر و خواهرم بوده اند و از استادانم نيز سپاسگذار هستم.

- خوب محترم هوشمند : علاقمندي خويشرا در خوانش كدام مضامين بيشتر سراغ نموده ايد ؟

- علاقمندي من به تمام علوم جلب شده است اما به مضامين سايتس زياد و دلچسپي دارم .

- به چند لسان خارجي بلديت داريد موثريت لسان را در ارتقاء سويه تان چگونه ارزيابي مينمائيد ؟

- به جز از زبان هاي مادري و ملي خويش به لسان هاي عربي، انگليسي و آلماني بلديت دارم فراگيري زبان خارجي بدين ملحوظ مهم است كه انسان ميتواند به شكل درست و صحيح آن احكام دين و تاريخ خويشرا بديگران كه بلديت به زبان ما ندارند معرفي نمايد. و از داشته هاي جانبين مستفيد شويم.

- چه تصور داريد كه درآينده تحصيلات خود را در كدام رشته ادامه خواهيد داد ؟

- آرزو دارم تا مصدر خدمت به هموطنان خويش در همه حالات بوده باشم به عقيده من هر كسيكه در جامعه اسلامي زنده گي ميكند به قدر توان و صلاحيت اجتماعي اش وظيفه دارد تا در جامعه نقش خويش را ايفا نمايد. علاقه دارم تا تخصص خودرا در رشته طب به پايه اكمال برسانم.

- اوقات فراغت تان را چطور سپري مينمائيد ؟

هنگاميكه از دروس فارغ ميشوم، به مطالعه كتب مفيد مي پردازم زيرا مطالعه براي جوانان خيلي مهم است و بايست از آن مستفيد شوند مطالعه حالات ادوار گذشته به جوانان پند ميدهد كه گذشتگان شان چگونه بامصايب و مشكلات برخورد كرده اند به چه طريق توانسته اند تا خود را از آن نجات بدهند و به پيشرفت نايل شده اند و آن به اساس مراعات كدام قوانين بوده است ؟

- شما منحيث يك جوان كوشا و ممتاز چه پيامي به جوانان هموطن تان داريد ؟

- جوانان جامعه ما بايد در مسايل علمي و اسلامي بسيار تعمق كنند و از بيهوده گي و بيكاري دوري گزينند هرآنچه كه دين ما و پيامبر گرامي ما گفته است ما بايد آنرا عملي نمائيم و وظيفه تبليغ و دعوت اسلامي خويش را در همه موارد آغاز كرده و در اين راستا از مخالفت و موافقت كسي انديشه نكنيم تا باشد كه همه مردم ما اصلاح شده و به پيشرفت نايل گرديم.

م.م فضليار

طالبه !

ملا محمد ابراهیم «زرمتی»

اظهار دي د ضمیرو دا که درد دي د سیني
په دوروکي د ماین چي خون ځیگر وریږي

تنگي سینه دي ډکه له تنکیو ارمانو وه
په پاڼه د تاریخ کي چي په زر وځلیدي

شمله مو د وياړو ده نه کړي بي احساسو
تاپورته کړه په لور چي د ستګروځوځیدي

قربان دي له سلګیو سهریو، سهریو اسویلو
ایثار دي بي مثال ؤ د زړه سر وګرځیدي

که ډکي شوي له وینو نه پښي مي د آقا«ص»
وارث نه هم صحني د پیغمبر وګرځیدي

صدا

گل احمد «پما»

من از صدا خوشم مي آيد
از صداي غرش رعد
در يك شب زمستان
كه صاعقه اش
شبزده گان را به روز ميخواند
من از صدا خوشم مي آيد
از صداي خروش مواج دريا
كه تلهاي خاكي وامانده در ساحل را
در خود فرو ميبرد و فرو مي بلعد
من از صدا خوشم مي آيد
از صداي ناي آن چوپان
كه در تنهايي شب زمستان
با موج دريا
از درد
سرود عشق به دريا مي نوازد
من از صدا خوشم مي آيد
و در صدايم
از صداي آن غرش
آن خروش
آن سرود ناي
صداي قوت يك مرد است
صداي قوت كهمرد است
كه كوه عزم
به خاراسنگ پنجه مي سايد
و فرهاد گونه
به ياد شيرينش
از شكافتن كوه بيستون
در انتظار آب،
مغرور ايستاده است
من از صدا خوشم مي آيد
و در صدايم
صداي شيرزني است
كه گرگها را از پس راندن مردانه، شوهرش
كه در نطع خوابيده
و چشمانش
در بيكسي هزار كس دارد،
از حريم رمه هاي شير دهش
با دست و با زبان ميراند
من از صدا خوشم مي آيد
و در صدايم
صداي كودك معصوم محزونيست
كه باروري عمر را
در فقاي پدر
در گفته هاي كودكانه
با «تي!» - در انتظار مي نشيند
من ز صدا، صدا، صدا خوشم مي آيد .

د شعر او ادب نړۍ

كم بخته برخه

محمد امين «مموزي»

اي زما كمبختي برخي خوب نه كله راويښيږي؟
كاروانونه بار شول لاړل ته لا خاورو كي رغړيږي
منزل ليري ، توښه نشته، بيا به څه كړي دي بيدیا كي ؟
خداي د پاره لر راويښ شه له ملګرو پاتي كيږي
وار به تير او كار به وران وي، لار به وركه نه پواځي
وي به تكنده غرمه چي نه له ځانه څو خوخيږي
په پوازي صورت كله پراوونه لنډ واي شي
ځان به پيښي شي درياندي بيا به ځان سره ځوريږي
شكر خوب كه څه هم خوږدي خو انجام يي ډير خراب وي
زيري سترگي به بي پاتي ، دوست دښمن نه به شرميږي
تش په لاپوځه نه كيږي چي عمل درسره نه وي
لكه رعد به غوريږي خو باران به نه وريږي
بخت به هلته ياري وكړي چي له يار سره مخلص شي
چي په غم كي بي غمجن شي، په خوښي بي خوشحاليږي
«مموزيه»! په هجران كي ازمويلم، مي خپل بخت دي
دا بهتر چي دي گرداب نه ځان وباسي ، كه پرهيږي

رضاي دوست

محمد ضيأ «كوشا»

هر دل كه پر نزد به هواي تو خسته به
هر سر كه خاك راه تو نبود شكسته به
ديدار تو نصيب نگردد اگر مرا
باغ و بهشت و حور به من ناخجسته به
دور از تو گر به من بدهند آب زنده گي
راه گلوي من به چنين آب بسته به
گر بيتو خنده به لبم خانه ميكند
تار نشاط و شادي جانم گسسته به
هرگز نخواهم از دو جهان جز رضاي تو
در سينه ام شراره خواهش نشسته به
دل گر نگشت خاك در آستان تو
آويخته به دامن لطفت دو دسته به
«كوشا» اگر ز جوهر خود كس خبر شود
دستش زهستي همه آفاق شسته به

غزل

نصر الله «حافظ»

د څو ورځو ميلمه يمه جانانه درنه ځم
ترلي د ژوند كره درنگ شيني نه په سرږدم
راغلي چي وم بي سرو سامانه په كوم رنگ
نه مي سينه د بلبل او نه ښكلا شوم د وربل
حسينه ماه چيينه نور دي نه حيرانوم
راوستي يم په جگو جگو غرونو د بيلتون
دا نن دي چي په مخ كړي زلفي هسي پريشاني
اي ياره! رخ مي وښه د ځيري گريوانه نه
زړه تنگ نه كړي قربان دي شم ميزبانه درنه ځم
مكانه درنه تلونكي يم زمانه درنه ځم
همغسي به بي سرو سامانه درنه ځم
يو گل يم رژيدلي گلستانه درنه ځم
آئينه دي شومه حسن ته حيرانه درنه ځم
راغلي يم ستومانه او ستومانه درنه ځم
جانانه زه هم داسي پرشانه درنه ځم
راغلي ښه هوښيار ومه ديوانه درنه ځم
«حافظ» هيله راوړي وه د ښكلو د ديدن
ديدن نه دي پري نښودم دريانه درنه ځم

د روژې احكام

سرسايه يا د فطر صدقه

قاضي محمد حسن "حقيار"

٥برخه

پېژندنه : له نيستمنو او بيوزلو خلكو سره له يوي پاكل شوي اندازي مرستي څخه عبارت ده چي الله «ج» په شتمنو مسلمانانو باندي په يو ځانگړي مناسبت اوځانگړي وخت كي له دوي سره دا مرسته واجب گرځولي ده .

د سرسايي د وجوب حكمت: دا يوه طبعي خبره ده چي په هره ټولنه كي بهايان، شتمن، نيستمن او بي وزله اشخاص او كورني وي او دا هم د فطرت خلاف او نا ممكنه ده چي د ټولني د ټولو عناصرو ټولنيز ژوند دي په يو مساوي (برابر) كچ عيار كړل شي نو ددي لپاره چي په يوه ټولنه كي د هغي ټولني نيستمنه طبقه (پاټكي) بالكل محروم او بي برخي پاتي نه شي نو الله«ج» دوي د شتمنو د شتو او مال په يوه ټاكلي فيصدي (سلواله) كي شريك وگرځول او د شتو خاوندان يي دي ته ترغيب كړل چي كه له ډي بيوزلو سره نوره مرسته هم وكړي خو ډير ښه او ډير ثواب لري او كه نه نو دا ټاكل شوي مال خو دي حتماً دي خلكو ته وركړي او حكمرانان يي په دي مكلف كړل چي كه د شتو خاوندانو په دي هكله له حيلو او پلمو څخه كار واخيست نو تاسو د خداي«ج» دركړي توان او قدرت څخه په استفادي د نيستمنو دا حق را ژوندي كړي چي په دي كتار كي عشر، زكوة، خراج او ... شامل دي صدقه، فطر يا سر سايه هم د همدي لړۍ يوه كړي ده الله«ج» ټول هغه مسلمانانو چي له نيستمنو

سره د مرستي توان لري په دي مكلف كړل چي د اختر دخوښيو په ورځو كي دي بيوزلان او نيستمن خلك هم په خوښي او خوشحالي كي له ځان سره شريك كړي او په خپلي مالي مرستي سره دي دوي ته د ازمينه برابره كړي چي د محروميت او نا هيلي احساس ونه كړي د فطر صدقه د الله«ج» دربارته د هغه چالخوا چي د رمضان د مياشتي روژه يي د هغي د غوښتني او ادا يو سره سمه نيولي وي د شكراني په معني هم ده.

د زكوة ، سرسايي او ... د وجوب په حكمت او فلسفه ډير بحث به زمونږ ددي ليكني له حوصلي څخه وتلي خبره وي نو ځكه دلته په همدي لنډه يادونه بسيا كيږو.

احكام او د وجوب شرطونه :

د نورو واجباتو پر خلاف سرسايه په هر مسلمان نارينه، ښځي عاقل، بالغ مريي، وينځي، كوچني، ليوني، معتوه ... ټولو واجب ده خو د ځنو وجوب نيغ په نيغه دوي ته راجع ده او د ځنو نورو سرسايه د بل چا په ذمه ده . د صدقة الفطر د وجوب په هكله الله«ج» فرمايي : « قد افلح من

تزكي و ذكر اسم ربه فصلي : يعني : « په تحقيق سره بري موندلي دي هغه چا چي پاك شويدي او ياد يي كړ نوم د رب خپل (په تكبير سره) بيايي لمونځ وكړ» « الا علي اية ١٤-١٥

يعني دي د سرسايي په وركولو او د اختر د لمانځه په ادا كولو پاك شو» دلته د فطر صدقه او د اختر لمونځ په پرله پسي توگه راغلل نو د دواړو حكم وجوب ده او منكر يي نه كافر كيږي .

عبدالله ابن ثعلبة روايت كوي چي رسول اله فرمايي : د هر اصيل، مريي، كوچني او لوي په سر نيمه پيمانه غنم او يا يوه پيمانه خرما يا وريشي وركړي ، ابن عباس په بصره كي د مسلمانانو يوي دلي ته وويل چي : رسول الله «ص» په به دي ورځ مونږ ته امر كاوه چي د فطر صدقه وركړو ...

لكه چي وړاندي مو وويل د صدقه فطر د وجوب لپاره په انسان كي اهليت او بلوغ شرط نده نو په هر پلار د خپل ځان او د خپلو

كوچنيو اولادو لخوا سرسايه واجب ده كه كوچني خپل مال ولود نو پلار بي د هغه له مال نه دده سرسايه وركولى شي همدا راز پلار به د خپلو وينځو او مريانو سرسايه وركوي كه هم مريان او وينځي يي كافر وي د كبير و اولادونو (چي معتوه اوليوني نه وي) كه څه هم نيستمن وي سرسايه په پلار لازمه نه ده او د مور او پلار نيا، نيكه او نورو دوستانو سرسايه په چا واجب نده خو كه اولاد ليوني يا معتوه وي نو د كوچني حكم لري يعني سرسايه يي په پلار واجب ده . د ښځي سرسايه په ميړه واجب نده .

امام مالك «رح» وايي چي كه اولاد پيدا شي ليوني وي او همداسي ليوني لوي شي نو سرسايه يي په پلار واجب ده او كه ليونتوب ورته له لوئيدلو (كبارت) وروسته پيدا شو نو په پلار يي سرسايه لازم نده .

د وجوب وخت :

د وجوب وخت يي د كوچني اختر د لومړۍ ورځ پيل يعني د صبح صادق (سپيدو) له را پيدا كيدلو وروسته ده خو كه مخكي ادا شي نو ثواب يي هم ډير دي او وجوب هم ادا كيږي خو كه د كوچني اختر په ورځ يي ورنكړه نو تر وركولو يي غاړه بنده ده او بل وخت كي يي هم وركولي شي.

د سرسايي د وجوب نصاب :

امام ابو حنيفه «رح» وايي چي د سرسايي د وجوب لپاره هم حد ټاكل شويدي چي هغه حد د زكوة د نصاب حد دي خو امام شافعي وايي چي : څوك د يوي ورځي له خرڅ او خوراك نه اضافه څه ولري نو سرسايه پري واجب ده .

امام ابو حنيفه «رح» وايي چي هر څوك چي زكوة پري فرض وي په هغه سرسايه هم واجب ده او كه د زكوة نصاب ونه لري نو سرسايه پري نشته ده . خو د سرسايي لپاره د زكوة په ځير په سرسايي يا نصاب د كال تيريدل ضرور نه دي د زكوة نصاب دوه سوه درهمه يا شل ديناره دي چي يو درهم له دري گرامو سپينو زرو سره برابر دي چي په دي حساب ٢٠٠ له ٣ سره ضرب كيږي ٢٠٠ × ٣ = ٦٠٠ نو كه څوك په كور كي له اصلي حاجاتو نه اضافه (٦٠٠) گرامه سپين زر (نقره) ولري نو زكوة او سرسايه دواړه پري كيږي.

يو دينار له يو مثقال سرو زرو سره مساوي دي چي يو مثقال د ٤،٢٥ گرامو سرو زرو سره برابر ده ٢٠ × ٤,٢٥=٨٥ نو كه هر څوك له اصلي حاجاتو نه اضافه ٨٥ گرامه سره زر يا ددي معادل پيسي ولري نو زكوة او سرسايه دواړه پري كيږي او كه نه نو هيڅ نشته دي. چي د نن د

رمضان المبارك د مياشتي د ٢٨، مي له نرخ سره چي د كابل په شهزاده سراي كي د يو گرام سرو زرو بيه ٥٠٠ كلداري ده د زكوة نصاب په كلدارو ٤٢٥٠٠ كلداري جوړيږي.

كه په خپل چم او گاونډ كي نيستمن او مستحق خلك وونو بل ځاي ته د سرسايي ليږل مكروه دي مگر داچي هلته ددي ځاي په نسبت د فقر وزري ډيري غوړيدلي وي .

همدا راز د سرسايي وركول نيستمن ذمي ته هم جايز دي خو مسلمان ته يي وركول ډير ثواب دي.

يوه پيمانه يا يو صاع په قوي رواياتو د افغانستان په تله نيم يو كم نيم من او نيم صاع يو خورد كم يو چارك كيږي كه څه هم يو معاصر عالم نجم الدين الكر دي په خپل تأليف (المكيلات والموزونات والمقاييس في الشريعة الاسلامية من عصر النبي) كي يو صاع يا يوه پيمانه ٤،٧٢ كيلو گرامو او نيمه پيمانه ٢،٣٦ كيلو گرامه ښودلي ده نو په مسلمانانو واجب دي چي د فطر په صدقه كي يوه پيمانه خرما، يوه پيمانه وريشي يا نيمه پيمانه غنم د سړي په سر وركړي او ددي جنسونو بيه نقدي پيسي هم وركولي شي بلكه دا غوره هم ده او ډير ثواب هم لري .

محترم الحاج ملا محمد عباس آخند سرپرست وزارت صحت عامه...

پذیرفت و در نتیجه کنفرانس بصورت مجموعي فیصله بعمل آمد تا غرض مقابله با خطرات حوادث طبیعي در افغانستان یك مرکز مجهز امداد کمك رساني با مصدومین این آفات در شهر کابل تأسیس گردد که خیلي زود کار تطبیق این فیصله آغاز خواهد شد البته این مرکز از طرف اداره دکتوران طبیعي آسیا AMDA تأسیس خواهد گردید و ذخایر زیاد مواد کمکي در این مرکز ذخیره خواهد شد. محترم سرپرست وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان افزودند : در جریان این سفر ملاقات ها و صحبت هاي همه جانبه با اعضاي کمیته هاي سنا و پارلمان جاپان نیز داشتیم که همه آنها با مساعدت هاي همه جانبهٔ جاپان با مصدومین حادثات طبیعي در افغانستان موافقت خویش را ابراز داشته و در این رابطه وعده هر نوع معاونت نمودند ممکن یك هیئت پارلماني آن کشور نیز در آینده نزدیك از افغانستان دیدن بعمل آورد. همچنان طي این سفر با معین وزارت خارجه جاپان در امور آسیا و افریقا ملاقات و گفتشنود لازم بعمل آمد. معین وزارت خارجه آنکشور از علایق دوستانه افغانستان و جاپان در دورانهاي قبل از جنگ یاد آوري نموده و آماده گي کشورش را در راه کمك هاي بشري و اعمار مجدد افغانستان اعلام نمود همچنان با مسؤل آسیاي میانه و افغانستان در وزارت خارجه جاپان نیز ملاقات مفصلي داشتیم که در نتیجه آن توافق صورت گرفت تا یك هیئت با صلاحیت وزارت خارجه آن کشور از افغانستان دیدن نموده و در رابطه به علایق سیاسي و مطالعه ضروریات جامعه افغاني با مقامات افغاني از نزدیك دیدن بعمل خواهند آورد.

ضمناً ملاقات هاي با گورنر و شاروال شهر اوکاهاماي جاپان داشتم که هر دو مقام موصوف کمك هاي متداوم بشري با مردم کشور ما را از مسؤلیت هاي مهم خود شمرده و وعده سپردند تا کمك هاي هنگفتي را بدین منظور جمع آوري خواهند نمود. محترم سرپرست وزارت صحت عامه در اخیر به سوالات خبرنگاران جواب هاي مقنع ارائه داشته علاوه نمودند : مقامات جاپاني در رابطه به سیاست هاي امارت اسلامي افغانستان هیچگدام نارضایتي و یا انتقادي ابراز نه نموده و گفتند که با تغییرات در پالیسي هاي جامعه بین المللي در مورد افغانستان، به مسئله برسمیت شناختن امارت اسلامي افغانستان جواب لازم خواهند داد. همچنان در مورد کمك هاي جاپان با پروگرام صحت عامه در پانزده ولایت درجه سوم افغانستان تبادل نظر صورت گرفته و جانب جاپاني با اراده قاطع آماده گي خویش را در زمینه کمك با پروگرام صحت عامه در افغانستان اعلام نمود که البته این کمك ها از طریق موسسه AMDA در زمینه تطبیق پروگرام صحت عامه در افغانستان صورت خواهد گرفت کنفرانس مطبوعاتي متذکره حوالي ساعت دوازده ظهر پایان پذیرفت.

د سرې میاشتې رئیس او سکرتر جنرال محترم ...

کې بو ریاست لرو چې دغه ریاست له بېوزلو او اړو خلکو سره د جنسي او مالي مرستو سربېره پروژه وي پروګرامونه لکه د کاریزو او ویالو پاکول د ولارو اوبو د ډنډونو د کول تر څو د امراضو او ناروغیو مخنیوي وشي او د سړکونو ترمیم شامل دي. همدارنګه نومونړي زیاته کېږه د ناځاپي حادثو لکه زلزلو سیلابونو، په جنګ کې د ټپیانو رسول صحي مرکزونو ته د کرني څمکي کومي چې د جګړو او یا ناڅاپي حادثو پواسطه ویجاړي شوي له مالکانو سره د خپل وس مطابق مرستي کوو.

د مرستونونو په هکله محترم عاصم داسي وویل : مونږ په کابل، جلال آباد، قندهار، مزار شریف او هرات کې مرستونونه لرو تر څو له بېوزلو او معیوبو ماشومانو سره مرستي وکړو. باید ووایم چې دا مرستونونه نه یواځې دوي ته د اوسیدو ځایونه برابره وي بلکه دغو ماشومانو ته مختلف کسبونه لکه حلبي سازي، ګلدوزي، خیاطي او قالین اوبدلي، ښیي تر څو په راتلونکي کې حلاله روزي په خپله لاس ته راوړي د یادولو وړ ده چې پدي مرستونونوکي د دوي د سالمي اسلامي روزني لپاره دوه استادان چې بو ورته د عصري علومو او بل د دیني علومو ښودنه کوي په تدریس بوخت دي.

محترم عاصم خپل نور پروګرامونه داسي بیان کړل : مونږ د ماین له خطر څخه د خبروني او د پوستي رساني پرګرامونه هم لرو چې د ماین خبروني پروګرام د هیواد د ولایاتو او ولسوالیو په هر کلي کې درسي پروګرامونه لري او خلکو ته د ماینونو انواع د هغه ځاي ښودنه چیرته چې ماینونه ښخ وي او د هغه د انفلاق او چاودني علتونه ښیي تر څو هیوادوال د ماینونو په هکله پوره معلومات تر لاسه او دي دښمن د مرګ ژوبلي څخه په امن ژوند وکړي. د پستي رساني پروګرام مو د ورکو او بې درکو هیوادوالو تحقیق او پلټنه او په جنګي سیمو کې د جنګي اسیرانو د لیکونو ارتباط د هغوي له کورونو سره په غاړه لري.

محترم عاصم د روغتیایي چارو په هکله داسي وویل : مونږ په ټولو ولایتو کې شپږ ځلوېښت کلینکونه او په مرکز کې بو لوي روغتون لرو چې دا کلینکونه د هیواد په ټولو ولایاتو کې ناریته او ښځینه ناروغان تداوي کوي. همدارنګه باید ووایم چې په ناڅاپي پیښو کې سیار کلینکونه لرو چې د پیښو ځاي ته اولیه مرستي رسوي. نومونړي د مرکزي روغتون په هکله وویل : روغتون دوي برخي لري چې یوه برخه یې ناریته ناروغان تداوي کوي او بله برخه یې نسایي او ولادي ده چې صرف ښځینه ناروغان تداوي کوي. هغه د روغتون په هکله داسي توضیحات ورکړل : دا روغتون د تیرو جګړو له امله ویجاړ شوي وو لله الحمد د افغاني سرې میاشتي او نورو خیریه ټولنو په همکاري بیا فعال شو چې ۱۶۰ بستره لري او د روژي مبارکي په شلمه نیټه د سرپرستي شوري مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر لخوا پرانستل شو.

له محترم عاصم څخه مو د افغاني معیوبو ماشومانو د علاج لپاره بهرنیو هیوادونو ته د استولو په هکله پوښتنه وکړه هغه داسي وویل : مونږ په کال کې دوه ځلي تقریباً ۳۰۰ معیوب ماشومان کووم چې علاج یې دلته نه کیږي د ډاکټر رونال آلماني په مستقیمه همکاري بهرنیو هیوادو ته دعلاج لپاره استوو او هلته تر هغه تداوي کیږي تر څو روغ شي بیا هیواد ته د سرې میاشتي لخوا را استول کیږي. همدارنګه باید ووایم مونږ له مختلفو خارجي هیوادو سره په تماس کې یو تر څو لوي ناروغان کوم چې علاج یې دلته نه کیږي د تداوي لپاره بهرته واستوو اکثرو هیوادو پدي هکله له مونږ سره د همکاري وعده کړي ده.

بیا مو د محترم عاصم څخه وپوښتل تر څو له دوي سره د شوو مرستو او د هغوي مرستو د منابعو په هکله ملعومات راکړي هغه وویل : د مختلفو هیوادونو او د افغانستان ملي تجاران او شتمن خلك په مستقیم او غیر مستقیم ډول یا د صلیب او فیدریشن له لاري له مونږ سره مرستي کوي له محترم عاصم څخه مو د ده د وروستیو سفرونو په هکله معلومات وغوښتل : هغه وویل تر اوسه مي ځلور سفرونه کړي دوه ګاونډي هیواد پاکستان یو اردن او بل ویتنام ته چې ددي سفرونو په جریان کې می د هغو هیوادونو له مسؤلینو او ملي ټولنو سره خبري کړي او هغوي راسره د مرستي وعدي کړي او هم باید ووایم چې د فبروري په اووم سویس ته د افغاني سرې میاشتي په مستقله نمایندګي ځم تر څو پدي مجلس کې نړیوالو ته د افغانانو د حالاتو څرګندونه وکړم تر څو زموږ له وران هیواد څخه خپلي هیڅ ډول مرستي ونه سپموي.

د محترم عاصم څخه مو وپوښتل ستاسي پر مرستو سربیره په کابل کې د سوالګرو شمیر مخ په زیاتیدو دي او د دوي د احتیاج د کمولو لپاره تاسي ولي اقدام نه کوي ؟ هغه وویل د تیرو جګړو پواسطه د سرې میاشتي ټولي عایداتي منابع له منځه تللي پدي هکله مونږ له خیریه موسسو سره په تماس کې یو تر څو د سرې میاشتي عایداتي منابع بیا فعال کړو. پدي ترتیب به مونږ وکولاي شو د لسو زرو پخو ډوډیو یوه پروژه جوړه کړو او هم دغه سوالګر د کابل مرستون ته نقل کړو په دي صورت غواړو دوي ته د ژوند کولو ټولې آسانتیاوي برابري کړو او هم مختلف کسبونه وروزده کړو تر څو د همیش لپاره د خپل لاس له حلالي روزي څخه ګټه واخلي.

کله مو چې له محترم عاصم څخه وپوښتل چې ستاسي څخه معلوات لري چې ستاسي ټول مراجعین بې وزله دي او که نه ؟ هغه وویل : مونږ خاص هیئت لرو او هغوي په دریو میاشتو کې یو ځل سروي کوي چې وروسته له سروي څخه مونږ له مستحقو کسانو سره مرستي کوو. په آخر کې مو د سرې میاشتي د سرپرست محترم عاصم څخه د روان کال د مرستو د اندازې په هکله پوښتنه وکړه هغه وویل : مونږ دوه زره کورنیو ته خوراکي مواد لکه اوړه، وریجې، لوبیا، غوړي او صابون او دوه نیمو زرو کورنیو ته د ژمي د یخي هوا د مقابلي لپاره پلاستیکونه، برستني، کمبلي، بوټونه او د آشپزخاني اسباب او لوښي توزیع کړيدي او هیله من یو چې وکولاي شو د خپلو هیوادوالو ستونزي کمي کړو.

امریکا در کسب حمایت ...

امریکا خطر بین المللي را ایجاد نموده و این سیاست تخلف صریح از قوانین سازمان ملل است

هیأت امریکایي به کویت، عمان، قطر بحرین و امارات متحده عربي سفر نمود ولي

حکومت امریکا ...

پیشنهاد شده مذاکرات امریکا خواند. رئیس سي آي اي هم به مجلس سنا گفته که در موقف ایران کدام تغییري به مشاهده نه رسیده است.

کنفرانس اسلامي خواستار...

راه دیگري براي حل این مشکل سراغ گردد.

کنفرانس کشور هاي اسلامي از سازمان ملل متحد خواسته که در پالیسي خود در قبال عراق تجدید نظر نماید.

شمالي کوریا په داسي ...

شي او اتومي کوریږي هم حملولاي شي. نوموړي ویلي چې ځني نور کرچېږ توغندي بې د امریکا نورې برخې ویشتلاي شي. د سي آي اي رئیس وویل چې شمالي کوریا تر زمکي لاندي په اتومي پروګرام هم کار کوي.

د کرکټ د لوبې تر ...

پوري سره مساوي وو، او دوارو دري دري ګولونه کړي و خو د لوبې پاي ته رسیدو ته لږ شیبه پاتې وه چې پاکستان څلورم ګول هم وکړ او میچ یې وګټلو. د هاکي دویم تست میچ نن شروع کیدونکی دی.

د بادغیس په ولایت ...

وویل : دغه کلینیکونه چې د اوه ویشتو زرو امریکایي دالرو په لګښت د فنلند موسسي په مالي مرسته او ددغه ولایت د خلکو په همکاري جوړ شوي دي او د طبي ضروري لوازمو سمبال دي د هغو په جوړولو سره ددغه ولایت د مقصور دره بوم او لامان د سیمو طبي ستونزي له منځه تللي دي.

د استخباراتو لوی ...

په دغه غونډه کې چې د کورنیو چارو وزارت د معین محترم مولوي نور جلال جلالي او د مالیې وزارت د معین محترم مولوي نجیب الله حقاني د کونړ ولایت مرستیال محترم مولوي عبدالله جان د ۹۰ فرقې د قوماندان محترم مولوي سبحان الله د کونړ ولایت د استخباراتو د رئیس محترم ضابط عبدالحمید د کونړ ولایت د امنیه قوماندانۍ مرستیال محترم مولوي حمید الله او د کونړ ولایت د یو زیات شمیر خلکو په ګډون په اسعد آباد کې جوړه شوې وه نوموړي په ټول هیواد کې د اسلامي نظام د ټینګښت په خاطر د چارو د مسؤلینو او خلکو رسالت او مسؤلیت توضیح او تشریح کړ.

دغه راز د استخباراتو محترم لوی رئیس د شیګل له ولسوالۍ څخه د کتني په ترڅ کې د ملکي او نظامي چارو د مسؤلینو په غونډه کې هم ګډون وکړ چې د هغې په ترڅ کې د هغه ولایت د اړوندو چارو په باب غور او خبرې وشوې.

په بلخ کې د ...

الله مجید څو مبارک ایتونه ولوستل شول د بلخ ولایت د عامې روغتیا رئیس محترم سید محمد امین آغا د سیمینار له برخه والو او د شمال د سیمو د ولایتونو اړو کسانو ته د زیاتو خدمتونو او د ۱٤۲۰ هجري قمري کال د روغتیایي خدمتونو پلان د عملي کولو په لاره کې د هغوي د تیاري له امله قدرداني وکړه او هغوي یې خپلو راتلونکو مکلفیتونو ته ځیر کړل.

په دي سیمینار کې د سر پل بلخ فاریاب سمنګانو او د جوزجان د ولایتونو د عامې روغتیا رئیسانو، دغه ولایتونو د افغاني سرې میاشتي د امریتونو استازو د نړۍ د روغتیایي سازمان د موسسو چارواکو د نړیوال معاینیت او د سویډن د کمیټي هیأتونو هم ګډون کړي وو.

د ملګرو ملتونو هیئت او ...

ویړي پرته د اسلامي امارت په سیمو کې د هیواد د اتباعو لپاره د سوله ایيز ژوند زمینې برابري کړي تر څو دې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین وویل موږ د ملګرو ملتو د سازمان د قوانینو درناوي کوو او د ملګرو ملتو د پروګرامونو په تطبیق کې د امکان تر حده د هر ډول همکاریو ژمنه کوو.

د یو بل خبر له مخې د بهرنیو چارو د وزارت معین محترم مولوي عبدالرحمن «زاهد» دخپل کار په دفتر کې د فرانسې د هیواد له ګرزنده شارژدافیر ښاغلي جین ویس برت هول سره چې په دي وروستیو وختو کې کابل ته راغلي دي وکتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : ددغي کتني په ترڅ کې ښاغلي جین ویس کابل ته د خپل سفر هدف څرګند کړ او وي ویل : د افغانستان داسلامي امارت او د نړیوالو ټولنو تر منځ د ناوړه تفاهم علت دا دي چې د افغانستان د اسلامي امارت په لاره بیلا بیلي خبروني او نظر بې شته موږ غواړو چې له نژدي لیدني کتني ولرو او واقعیتونه د سر په سترګو وګورو خپل هیواد او نړیوالو ټولنو ته دا دور کړو چې دغه ډول ناوړه تفاهمات له منځه لاړشي.

وروسته د بهرنیو چارو وزارت محترم معین وویل : د طالبانو اسلامي تحریك د سولي او امنیت د ټینګولو او د اسلامي شریعت د نافذیدلو په خاطر پیل شوي چې لله لحمد د افغانستان په سلو کې په پنځه نوي‌خاوره کې بریالي شوي دي.

په پیل کې د محترمو طالبانو اسلامي تحریك د نړیوالو په پام نا بلده څرګندیده اوس چې زیاتره نړیوالو حقیقت درك کړي مینه یې پیدا کړه چې د افغانستان له اسلامي امارت سره تماسونه ونیسي او خپلي دوستانه اړیکي ټینګي کړي.

د افغانستان اسلامي امارت په اقتصادي فرهنګي بیا رغاونې او د کانونو د را ایستلو په برخو کې د وستانه اړیکو غوښتونکي دي، له دي امله له تاسو نه زموږ غوښتنه دا ده چې زموږ د هیواد د عیني واقعیتونو له مخې خپل دسترګو لیدلي حال بیان کړئ چې د افغانستان د اسلامي امارت په د فرانسي د هیواد او نورو نړیوالو ناوړه تفاهمونه لمنځه لاړ شي.

از سوی محکمه عالي ...

حکومت تا بحال شش جریده و روزنامه را به اتهام پخش اخبار و مضامین دروغ مصادره کرده و یکعده از ژورنالستان را دستگیر نموده است.

د فاریاب ولایت د ...

عبدالله جلالي د اسلامي امارت د سوله ئیزو پروګرامونو د څرګندولو په ترڅ کې ددي هیواد د دښمنانو د دسیسو او شومو پروګرامونو په باب خبري وکړي او په هیواد کې یې د سولي او امنیت د تامین او د ملیشو د وروستیو شیطاني ځالو د لمنځه وړلو په لاره کې د ملت د هر فرد ایماني او وجداني مسوولیت څرګند کړ.

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال د فاریاب ولایت د قرمقل ولسوالي د پښتنو خلکو د غونډي له بهیر څخه خبر راکړ زیاتوي د قرمقل د ولسوالي دیندارو خلکو چې یوه زیاته موده یې د مفسدو ملیشو زوروونه او ظلم زغملي و په دغو سیمو کې د اسلامي اردو د ځواکونو له بري وروسته د سولي او امنیت له نعمت څخه چې د دوي پخواني هیله وه رسیدلي دي، او هغوي ددغې غونډي په ترڅ کې اعلام وکړ چې د الهي حکمونو د پلي کولو د سولي او امنیت د تامینولو او د مخالفینو د دسیسو د شنډولو په لاره کې به د هیڅ ډول هلو ځلو نه ډډه ونکړي.

د قرمقل ولسوال محترم ملا علي احمد مسلم ددغي ولسوالي د خلکو د بي غرضه همکاریو او له نیکو ولولو څخه قدرداني وکړه.

ملك	شپږ میاشتني	کلنۍ
د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

امریکا و اتحادیه اروپا باید فیصله هاي خویش در حق کوسووا علیه صربها را عملي نمایند

بعد از آنکه صلیبیها و اقمار شان از دشمنان اسلام، با به کار بردن هزاران حیله و نیرنگ توانستند خلافت عثماني را از بین ببرند و مسلمانان جهان را که طبق احصائیه بین المللي اضافه تر از یك بر پنج نفوس جهان را تشکیل می دهند بین خود با یکدیگر انداخته و از هم پراگنده نمایند و قدرت آنها را منشتت سازند، جهان دو قطبي و از همان وهله طالع مسلمانان واژگون شده زیر تهدید و فشار هاي گوناگون ابر قدرت ها آمدند و بخاطر سرکوبي و زجر مسلمانان فقط یك بهانه کوچك نیز کافي بود گرچه با برکت جهاد و قربانیهاي بیدریغ ملت مسلمان افغان تیوري بي مفهوم کمونیزم با رسوایي و شرمنده گي بي نظیر زیر خاك مدفون گردیده زنجیر طلسم اتحاد جماهیر شوروي شکسته، جهان یك قطبي و از شر کمونستهاي ددمنش نجات یافت اما حالت ناهنجار مسلمانان همانطور ادامه داشته حتي به مراتب اضافه تر گردیده است و این بخاطریکه کفر جهاني این را خوب درك نموده است که بعد از فروپاشي اتحاد جماهیر شوروي توسط یك ملت ضعیف و تا توانیکه حتي در نقشه جهان هنوز نا شناخته، از ناحیه سلاح و مهمات کاملاً تهي دست با ساینس و تکنالوژي معاصر حتي از بلدیت ابتدایي محروم اما ملبس و مجهز به سلاح قوي ایمان، مسلمانان من حیث یك نیرو و دین مقدس اسلام منحیث یك دین فاتح تبارز نموده و حالا به خاطر سرکوبي و نابودي آنها باید از هر حربه کار گرفت که نتایج و ثمرات تلخ این دسایس را امروز در اکثریت قاطبه کشور هاي اسلامي مي بینند، اگر جریانات الجزایر حوادث کشمیر، فلپین، عراق و فلسطین را یکایك مورد بررسي و مداقه قرار داد، اگر به حوادث افغانستان، بوسنیا، چیچنیا و برما نگاه شود به وضوح در مي یابیم که استعمار در کشور هاي اسلامي چه اهداف به خصوصي دارد. جهانیان از وسایل ارتباط جمعي از حالت فلاکتبار مسلمانان کوسووا آگاهي دارند که چه نوع مظالم نبود که از طرف صربهاي وحشي علیه مسلمانان صورت نگرفت. جهانیان به خاطر دارند که تقریباً از شش سال بدینسو در بوسنیا هرزه گووینیا (زیر نظر و پرده، ملل متحد) علیه مسلمانان به کدام پیمانه عملیات شنیع صورت گرفت و اکنون در کوسووا حالت مسلمانان به چه اندازه قدرت بار است ملل متحد که هدف عمده از تأسیس این موسسه رفع تشنجات بین ملل و کشور ها، آوردن صلح، و دفاع از مظلوم محسوب میشد تا الحال در این مورد کدام قدم برداشته است ؟ امریکا که از بخت بد امروز خود را یکه تاز و قهرمان گیتي میپندارد و امنیت منطقه را از وظایف و مکلفیتهاي برازنده خود محسوب مینماید تا الحال به ضد صربهاي ظالم و متجاوز چه اقدام نموده است ؟ آیا سرودن شعار ها کفایت مي کند ؟ اگر ملل متحد به خود این حق را میدهد که به بهانه بغاوت از فیصله نامه، این موسسه ملت مظلوم و مسلمانان عراق را غرق خون و آتش نماید ؟ اگر امریکا به بهانه اختلال امنیت منطقه عراق را راکت باران کرده میتواند پس چرا و به علت کدام انگیزه دست هاي صربهاي ظالم و متجاوز را که بار ها و چندین مراتب از فیصله نامه، ملل متحد سرکشي نموده، به فیصله شوراي امنیت «قعه نه گذاشته، فرمان و قطعنامه، ناتو را نادیده و بي اعتنا گرفته از این مظالم نمیتواند باز دارد.

اکنون که امریکا و اتحادیه اروپا اعلان نموده اند که براي مسلمانان کوسووا خود مختاري کافي داده خواهد شد ما این داعیه را خیر مقدم گفته اند باید آنها به این فیصله خود جامه عمل بپوشانند و متخطي را که همانا جانب صربها هست مجازات جدي نمایند. در حالیکه از قراین و بررسي اوضاع چنین استنباط میشود که شاید صربها به تنفیذ این قطعنامه امریکا و اتحادیه اروپا تن نخواهد داد زیرا در مذاکرات متوقعیکه در هفته آینده بین جبهه آزادیخواه کوسووا و صربها به اساس پیشنهاد امریکا و اتحادیه اروپا در پاریس مرکز فرانسه آغاز خواهد شد هیأت این جبهه علیرغم ملاحظاتیکه به این مذاکرات دارد در حال حرکت به محل مذاکرات مي باشد اما جانب صربها با اینکه از ضرب الاجل که از طرف ناتو به خاطر شرکت شان در اجلاس مذکور براي ایشان داده شده فقط یکروز مانده تا الحال آماده گي خود را براي شرکت در این مذاکرات نشان نه داده است.

اگر واقعاً صربها از شرکت در این مذاکرات تعلل و تعلل ورزند و فیصله نامه هاي امریکا و اتحادیه اروپا را نادیده گرفته پس امریکا و اتحادیه اروپا باید این عمل صربها را ساده نه پنداشته به خاطر حفظ حیثیت و وقار خود این قراي ناتو را علیه صربها مارش نمایند در غیر آن این حقیقت دیگر نیز روشن تر خواهد شد که استعمار جهاني به شمول امریکا و اتحادیه اروپا علیه مسلمانان یك جبهه متحد گرفته اند

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press